## (A) برخه د علمي باغوانۍ (Horticulture) درک او زده کړه

## دوهم لوست: د باغوانۍ د صنعت دارزښت تشخيص
## (Determining the importance of the Horticulture Industry)

### د زده کونکو د زده کړي موخي:

زده کونکي به په دې لوست کې د لاندې موخو سره اشنا شي، د دې لوست د تشريح څخه بايد لاندې موخي په لاس راوړل شي:

١ – د ګل، مېوې او سبزېجاتو(horticulture) د پالنې دهنر عموميت او رواج.
٢ – د زينتي باغوانۍ اهميت تشريح او بيان کړئ.
٣ - د سبزې کارۍ (olericulture)د صنعت اهميت پشريح کړئ.
۴ – د مېوه پالنې(pomology) د صنعت اهميت تشريح کړئ.

**دلوست ورکولو لپاره وړاندېز شوي وخت:** ٢ساعته

**وړاندېز شوي منابع:** لاندې منابع کېدلي شي په دې لوست کې ګټوري تمامي شي. د درسي پلان د بنه پرمخ وړنې لپاره په دې برخه کې پاورپاوينټ هم تهيه شوي دی.

1. A PowerPoint has also been developed for use with this lesson plan
2. [www.icarda.cgiar.org/afghanistan/Pdf/NA_Horticulture.pdf](www.icarda.cgiar.org/afghanistan/Pdf/NA_Horticulture.pdf)

### د سامانونو، لوازمو، وسايلو او اسانتياوو لړليک

د لېکلو په خاطر سپېنه صفحه يا ورقه
پراجکتور د پاورپواينټ لپاره
پاورپوانيټ سلايدونه
لابراتواري ورقي
واړه کارتونه چې د نباتاتو د نومونو لرونکي وي(په لاندې لومړی لوست کې لېدل کيري) چې د چسپ (Tape)وړ دي

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني به په دې لوست کې استعمال کړل شي(ذکر شوي اصطلاح ګاني په ٢ شمېره سلايد دپاورپواينټ کې ارايه کړي شوي دي):

- ❖ Floral production د ګل توليد
- ❖ Floriculture ګل کرنه يا ګل پالنه
- ❖ Landscape horticultureد منظرو او خيابانونو ښايسته کول
- ❖ Olericulture سبزي کرنه، د سبزېجاتو ساتنه
- ❖ Pomology علمي مېوه کرنه،مېوه پالنه، او د مېوې کرنې علم.

**په زړه پوري تګلاره:** له په زړه پوري تګلارو څخه استفاده وکړئ ترڅو د زده کونکو ذهن د لوست لپاره اماده کړل شي. ښوونکي اکثره د خاصو ټولګيو لپاره د هغوي د فهم د سطحې سره سم مواد تهيه او برابروي. لاندې تګلاره کېدلي شي په دې ځآی کې تر استفادې لاندې ونيول شي.

درس داسي پيل کړئ چې لومړي زده کونکي د يوې مېوي، سبزي نوم چې په افغانستان کې نمو کوي، واخلي. دا نومونه د تختې پرمخ ولېکئ. هغه تولېدات چې په بازارونو او مارکيټونو کې پيداکيږي هغې ته اشاره وکړئ. له دې بيلګو څخه په استفادې سره بحث د لومړي لوست د موخې په لور سوق کړئ.

## د لوست لنډيز او درسونو ستراتيژۍ ګاني

**لومړی موخه:** د ګل، مېوې او سبزېجاتو(horticulture) پالنې د هنر رواج او عموميت تشريح کړئ.

**پاور پواينټ ۳ شمېره سلايد**

**۱ - د مېوې، ګل او سبزېجاتو (Horticulture)پالنې هنير يا باغواني :** په ټولو فقيرو او غني جامعو کې عموميت لري او مهم ګڼل شوي دي.

الف) د باغوانی عموميت او رواج ډيري ګټې لري. د کاري سطحې زياتوالي، په حيواني او انساني خوراکه کې زياتوالي، له نيکيو څخه خوند اخستل او د الله د ښايسته مخلوق څخه لذت اخستل، دوي ټول د باغداری يا باغوانی له ورو نمونو څخه دي.

**پاور پواينټ ٤ شمېره سلايد**

**ب )** د افغانستان چاپيريالي شرايط په فوق العاده ډول د ډيري محصولاتو د ونو، د سبزېجاتو د نوعو او کرنئزو تخمونو د توليد لپاره مساعد دی.

- ❖ زمونږ په ګران هوېاد افغانستان کې د باغوانی او ګل کرني زيات شمېر نوعي شتون لري، په داسې حال کې چې د اګرو ايکولوژيکي زونونه د افغانستان د باغونو لپاره يو جوړونکي او اورد موسم برابروي.
- ❖ افغانستان يو بې مثله وراثتي يا جينتيکي ( genetic diversity)مرکز دی چې د بين المللي باغداريو د ټولنو لپاره ډير لوي ارزښت لري.

**پاور پواينټ ۵ شمېره سلايد**

- ❖ ګازري، سري ملی، آلوبالو، آلو، زردالو، شفتالو، ناک، منه، غوز، پسته، انځر، انګور، انار، خربوزه، بادام د هغه نوعو له جملې څخه دي چې د هېواد په سراسر ځآيونو کې شتون لري او احتمالاً د اګربوتانيکل( agro-botanical) له خصوصياتو څخه بې مثله نظم برابروی.

- ❖ د باغداری محصولات نسبتاً د اوبو په مقابل کې موثر دي، چې دا امر د متنوعو تخمونو په توليد کې مرسته کوي او د باغداری محصولات دانسانانو د مغذي مواد د اړتيا وړ منبع برابروي.
- ❖ باغواني ځمکې او کارمندانو ته په جدي توګه اړتيا لري چې دا امر په خپل ذات کې د فقيرو دهقانانو او اجاره دارانو لپاره ګټور پېژندل شوي دي. د ورسټايي باغداری‌د صنعت د تولېداتو پروسه د ښځو او کورنيو لپاره د لاسته راوړنې زمېنه مساعدوي.

**پاور پواينټ ٦ شمېره سلايد**

**ج )** د باغدارۍ محصولاتو په ښه وضعه او موقف کې ځآی لري ترڅو د روستايي افغانستان غذايي مصونيت او د اقتصاد بيا رغونه حمايه کړي او ورسره مرسته وکړي او د هغې دلايل په لاندې ډول سره دي:

- ❖ د افغاني کروندګرو اکثريت د ګل، مېوې او سبزېجاتو (Horticulture)پالنې له محصولاتو سره بلدتيا لري. نويوالي او ترويجي پيغامونه ډېر په ښه زړه سره استقبالوي په دې شرط ګټې يې په فوري ډول د هغوي لپاره ښکاره او علني وي.

**پاور پواينټ ۷ شمېره سلايد**

- ❖ په افغانستان کې دګل، مېوې او سبزېجاتو(Horticulture) محصولات د مختلفو نوعو نماينده ګي کوي چې د هېواد په داخل کې په متنوع زونونو او اګرو-ايکولوژيکي برخو کې د کال د جريان په پراخه موده کې کښت کېدلي شي، د پراخېدنې امکان زيات شتون لري که چېري کښت په ساتونکو شرايطو کې صورت ونيسي. مثلاً د پلاستيکي تونلونو څخه استفاده وکړل شي.

- ❖ د ګل، مېوي او سبزېجاتو (Horticulture)محصولات زياتې ځمکې او کارمندانو ته اړتيا لري، په دې معني چې د خلکو لپاره د کار کولو زمېنه برابروي.

**پاور پواينټ ۸ شمېره سلايد**

- ❖ د ګل، مېوي او سبزېجاتو(Horticulture) د محصولاتو کښت د هېواد د لويو عايداتي فعاليتونو څخه په حساب رسيږي، چې د هغې ګټه فقيرو او اجاره لرونکو کروندګرو ته چې د لاسته راوړني په فکر کې دي، رسيږي.

- ❖ د باغدارۍ محصولات(Horticulture) تقريباً اوبئيز موثر (water-efficient)دي(په مصرف شوو اوبو باندې لاسته راوړنه) چې دارنګه حالت هم د افغانستان هېواد په ګټه دی، چېرته چې اوبه يوه محدوده منبع ده.

.

**پاور پواينټ ۹ شمېره سلايد**

- ❖ د باغدارۍ محصولات د محصولاتو په پراخه نوعو باندې شامل دي، لکه د لنډ سايکل محصولات(سبزېجات) او څو کلن محصولات(مېوه او مغزباب)، چې د دواړو ترکيب او اختلاط(د نبات کښت د نبات په منځ کې او د کښت ګډ سيستم) باغداري د غذايي توازن ساتنه، او د محېط پايداري منځته راوړي.

- ❖ د نيمه ښاري(Peri-urban) منطقو د باغدارۍ محصولات د ښاري او نيمه ښاري د خلکو لپاره د کار په پيدا کولو کې مرسته کوي په داسې حال کې چې د اعمل د فقر او سوتغذي(malnutrition) د کموالي سبب په ښاري ساحو کې کيږي.

**پاور پواينټ ۱۰ شمېره سلايد**

- ❖ کورني کاروبار او صنعت (Cottage industry)چې د باغدارۍ د توليداتو بسته بندي او پروسس په بر کې نيسي، دا عمل په خپل ذات کې عايدات متنوع کوي چې بيا هم بي برخي قشر(ښځې، معيوبين) ته يې ګټهٔ رسيږي، او د کورنيو لپاره عايداتي مصونيت برابروي.

- د باغدارۍ د تولید محصولاتو لپاره په ډیره پراخه پیمانه غوښتنه د منطقي په صادراتي مارکیټونو کې شتون لري.

**پاور پوائنټ ۱۱ شمېره سلاید**

**د )** د عالي کیفیت لرونکي تولید په خاطر د منطقوي شهرت په نظر کې نیولو سره، د نړیوالو فرصتونو پراختیا، ګل پالنه، مېوه او سبزېجات د دې سکتور یو وار بیا د هېواد د صادراتي لاسته راوړنې منبع کیدي شي.

مخکې له دې څخه چې زده کونکي په وړو کارتونو(**index cards**) باندې د هغه نباتاتو نومونه ولیکي کوم چې په افغانستان کې پیدا کیږي، ولیکئ. اطمنان حاصل کړئ چې تاسې د هرقشر (**segments**)نبات نوم لیکې لکه:زینتي نبات(**ornamental**))، میوه لرونکی نبات(**olericulture**) او د سبزي کرنې نپات(**pomology**). هر یو قشر د نبات ته په یو جلا کالم کې د تختې په مخ ځآی ورکړئ. کله چې مو د لومړی لوست موخه سرته ورسوله، نو زده کونکو ته لاندې لارښوونه وکړئ:
کله چې ما وویل چې لاړ شئ، نو هر یو ستاسې څخه د ټولګي په ماحول کې واړه کارتونه(**index card**) پیدا کړئ، واړه کارتونه د خپل ځآنه سره وواياست او د هغې په برخه کې فکر وکړئ کله چې هر نبات ته په خپل قشر کې ځاي ورکړ،تاسې هغه د ټولګې په تخته باندې ولیکئ. پوښتنه وکړئ چې کوم سوال شته یا خیر؟که چېري سوال نه وو نو وواياست چې " لاړشئ"

کله چې د اکار بشپړ شو، کوم واړه کارتونه چې زده کونکو پریښې دي هغې ته لاړشئ که چېري کوم د هغې نه غلتي درلوده هغه صحیح کړئ او لوست د وروستی موخې لپاره سوق کړئ.

**دوهمه موخه:** د زینتي باغوانۍ(ornamental horticulture) اهمیت پشریح او بیان کړئ.

**د پاور پوائنټ ۱۲ شمېره سلاید**

**۲ - د ګل، مېوې او سبزیجاتو** (horticulture) **صنعت**له دوه مهمو برخو یا قسمتونو څخه جوړ شوی دی:

الف) یو له هغې نه ګل پالنه(floriculture) یا د ګلونو کښت او پالنه ده. ګل پالنه یو څو بیلیوني بین المللي صنعت دی چې شامل دی د ګلونو په تولید پروسس او پاڼه لرونکو ګیاوو (foliage plants)پالنه په برکې نیسي.

**د پاور پوائنټ ۱۳ شمېره سلاید**

- د ګل لرونکی تولید( Floral production) عبارت دي له د ګلونو د نمو او پالنې فعالیتونه یا د زینتي پاڼې لرونکو نباتاتو تر د رسیدو(maturity) د هغوي پوري وي.د رسیدو په وخت کې دا نوعه نباتات پلورل کیږي. زینتي نباتات د ګلونو په شکل سره پري کیږي، د ګلونو پاڼې ، ګلدانۍ، یا بستري نباتات پلورل کیږي.

**د پاور پوائنټ ۱٤ شمېره سلاید**
**ب )** دوهمه برخه د خپابانونو (landscape horticulture) ښایسته والی یا مناظر دي، په دې معني چې د نباتاتو تولید او استعمال د محیط زیبایي په منظور صورت نیسي

ج) ځني زينتي نباتات چې په افغانستان کې په عامه توګه پلورل کيږي عبارت دي له: داطلس ګلونه(Petunias)، د شب بو سپين ګل(Hoary stock)، مکسيوکوئي د مينا ګلMexican asters) ، ګلاب، زنبق(Iris) او دنرګ ګل(Daffodil)

**د پاور پواينټ ۱۵ شمېره سلايد**

د ) د زينتي نباتاتو (ornamental crops)له پلورلو څخه پيسې په لاس راتلاي شي. له دې کبله د کابل د خلکو د باغوانۍ د عملياتو نموني کتلي شی چې هغوي په څه ډول دا کار تنظيم او اداره کوي:

**د پاورپواينټ ۱٦ او ۱۷ شمېري سلايدونه**

- د هغې مالک په کابل کې ژوند کوي او زينتي نباتات له خپل ګلخاني چې د هغې مساحت (۲۰×۸) متر کيږي برابروي، د ګلدانۍ د ګلونو په څنګ کې هغه تخمونه،زينتي بوټي، د ونو او سبزيجاتو نموني هم برابروي. کله چې غوښتنه زياته شي هغه اضافه توليدات نو نورو کروندګرو څخه اخلي. د ګلدانۍ يو ګل له ۵۰ نه تر ۳۰۰۰۰ افغانيو پوري پلورل کيږي. کلنۍ خالصه ګټۀ د هغې ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ ده.

**د پاور پواينټ ۱۸ او ۱۹ شمېري سلايدونه**

- د هغې مالک په کابل کې ژوند کوي او نباتات له ۳ شخصي ګلخانو څخه چې د هغې مساحت (10 x 6m; 6 x 3m and 5 x 2m) دي. د ګلدانۍ د ګلونو په څنګ کې، هغه تمونه، زينتي بوټي، د ونو او سبزېجاتو نموني هم برابروي. په هغه صورت کې چې غوښتنه زياتوالی وکړي هغه اضافه توليدات له نورو کروندګرو څخه پيري. د ګلدانۍ ګل يو دانه له ۲۰ نه تر ۳۰۰۰ فغانيو پوري پلورل کيږي. د کال خالصه ګټه د هغې ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ کيږي.

**د پاور پواينټ ۲۰ او ۲۱ شمېري سلايدونه**

- د هغې مالک په کابل کې ژوند کوي او يوازې پري کړل ګلونه په خپل دوکان کې پلورلي او هغه د کابل او د هغې د چاراطرافو له ګلخانو څخه پيري او په ژمې کې پري کړل شوي ګلونه له پاکستان نه راوړي. مصنوعي ګلونه هم پلوري. پري کړل شوي ګلونه په منځ د ۳-۳۰ افغانيو باندې پلورل کيږي. د هغې کلنۍ ګټه ۱۰۰۰۰۰ افغانيو نه تر ۲۰۰۰۰۰ افغانيو پوري کيږي.

**د پاور پواينټ ۲۲ او ۲۳ شمېري سلايدونه**

- د هغې مالک په کابل کې ژوند کوي او زينتي ګلونه د شخصي ګلخاني څخه پلوري چې د هغې د ګلخانې مساحت(۱۰×۲۰) متر کيږي. د ګلدانۍ د ګلونو په څنګ کې زينتي بوټي او مخروطي وني هم توليدوي. د هغې کلنۍ خالص مفاد د ۲۰۰۰۰۰ نه تر ۳۰۰۰۰۰ فغانيو پوري کيږي.

له پري کړي شوو ګلونو څخه نموني او ساقه پاڼي، د ګلدانۍ ګل او راحت ښښونکي نباتات زده کونکو ته وښاياست،يا د ميوو د بخش ، ګل کرنې او سبزي کرنې د بخش مجلي له ځان سره

ولرئ اويا هم كتلاكونه ولرئ ترځو زده كونكي هغه عملاً وګوري. له مجلو او كتابونو څخه د خيابانو او مناظرو د ډيزاينونو په برخه كې استفاده كولي شي.

**دريمه موخه:** د سبزي كرنې (olericulture)اهميت پشريح كړئ.

**د پاور پواينټ ۲٤ شميره سلايد**

۳ - **سبزيكاري (Olericulture)**، د باغوانی(horticulture) هغه ساحه ده چې د سبزيجاتو توليدي محصول په بركې نيسي. سبزيجاتو نه يوازې د ورځآنه خوراكې(nutrition) لپاره ارزښت لري، بلكې سبزيجات د اقتصاد په برخه كې هم ډير اهميت لري.

**د پاور پواينټ ۲٥ شميره سلايد**

- **الف )** سبزيجات د صحت د ساتنې لپاره مهم خوراكه ده او انسان د صحت په ساتنه او سلامتی كې حساس نقش لوبوي او همدارنګه د ناروغيو د مخنيوي په برخه كې حياتي ارزښت لري. سبزيجات د خواركي مهمې او كټوري برخي او تركيبات(ingredients) لري چې د بدن په ترميموي عملياتو كې په كاميابی سره استعماليږي.
  - سبزيجات د انسانانو په خوراكه (nutrition)كې ارزښتمند نقش لوبوي، په ځانګړي د ويټامينونو په برخه كې (B1, B6, A, C، E او ويتامين بی كمپلكس )خاص رول لوبوي، منرالونه او اليافي مواد(dietary fiber) كې هم .

**د پاور پواينټ ۲٦ شميره سلايد**

**ب )** سبزيجات - كچالو، روميان، لبږی،تور بانجان، پياز او ګازري معمولاً په ښاري او نيمه ښاري منطقو كې د كورنيو د مصارفو (domestic)لپاره استعاليږي. په ولايتونو لكه غزني، فراه، ننګرهار او كابل كې يو اندازه تجارتي توليدات هم شتون لري. او دهقانان معمولاً د سبزيجاتو تخمونه د اينده كال د فصل لپاره ذخيره كوي.

**د پاور پواينټ ۲۷ شميره سلايد**

**ج )** په افغانستان كې د سبزيجاتو عمده محصولات شامل دي په خربوزه، هندوانه، پياز،كچالو او روميانو باندې، دا پنځه نوعه سبزيجات ۸۷،٤ فيصده د سبزيجاتو د كښت د ساحه احتوا كوي. لاندې دياګرام په دې برخه كې وضاحت لري:



د پاورپواینټ ۲۸ شمېره سلاید ډیر عام سبزېجات چې په ولایاتو کې کښت کیږي، په ګوته کوي. دا سلاید دې زده کونکو ته وښودل شي او هغوي ته دې تشریح شي چې داتولیدات مختلفي منطقي له اقتصادي نظره څنګه متاثره کوي.
له زده کونکو څخه وپوښتئ که چېرې هغوي د کومو نباتاتو په کښت او کار کې مصروف وي، عملیات نوور پاتي زده کونکوته تشریح کړئ. اوس هغه لست چې د لوست په پیل کې ترتیب شوي وه هغې ته وګرځئ. او له زده کونکو نه وپوښتئ چې نن ورځ لست شوي نباتات یې خوړلي دي یا نه؟ او له هغیو نه پوښتنه وکړئ که کوم زده کونکي د کوم نبات نوم په لست کې مخکې نه دي اوریدلي؟

**خلورمه موخه:** د مېوي پالنې(pomology) د صنعت اهیمت تشریح کړئ.

**د پاور پواینټ ۲۹ شېمره سلاید**

**۴ – د مېوې ونې پالنه (Pomology)** د باغوانۍ(horticulture) د هغه ساحې نه عبارت ده چې د میوو تولیداتي محصولات په برکې نیسي.
الف) میوه جات او مغزي مواد زمونږ په ژوند کې ژوندی ارزښت لري. نه یوازې دا چې د تغذیوي (nutrition)حالت په بهبود او مصونیت کې، بلکې دا د صنعت جوړونې(industrialization)، پروسس او بازار موندنې لپاره مطلوب تولیدات دي. کوم ارزښت چې میوه جاتو او مغزي موادو د ځان کړي دی یو ښه د افغاني کروندګرو لپاره دی ترڅو عایدات په لاس راوړي، البته دا کار هغه وخت کیدلي شي چې کروندګر محلي او ملي مارکیټونو ته لاسرسي ولري.

**د پاور پواینټ ۳۰ شېمره سلاید**

**ب )** ددې باوجود چې افغانستان د میوو د تولید لپاره زیات پوتنشیل لري،د فعلي شرایطو په نظر کې نیولو سره ډیر باغونه د کروندګرو لپاره اقتصادي اهمیت لري. په استثنا یوځو محدود تجارتي باغونه پاتي شوي چې هغه هم په ډیر ضعیف ډول سره اداره او تنظیم کیږي، د دې باغونو ګټورتوب ډیر ښکته دی په استثنايي ډول خو محدود باغونو کلنی عاید د یو جریب ۲۰۰ امریکایي ډالره دی

**د پاور پواینټ ۳۱ شېمره سلاید**

**ج )** هرڅومره که چېرې دا باغونه په درست او منظمه توګه اداره شي د هغوي عاید د کتني وړ زیاتوالي کوي. د دې باغونو مثال هغه باغ دی چې په خاص کونږ کې موقیعت لري. ددې باغ دهقان تربیت اخستې ترڅو شاخه پرې کول، سره ورکول، دفنجې په وړاندې مبارزه، آفات او ناروغۍ په لاره واچوي.

- ورکړ شوی راپور چې ددې باغ خاوند د خپلي دري جریبه ځمکې محصولات یې په توده ئي شکل سره (bulk) یوځآیې ډول باندې پلورلي دي نو ناخالص ۲۲۵۰۰۰ افغانۍ عاید یې په لاس راوړي دی، دا رقم په دې باندې شاهد دی چې د افغانستان د میوو باغونه د ثبات او استقرار پوتنسیل لري.

**د پاور پواینټ ۳۲ شېمره سلاید**

**د )** د تاکستانونو او میوه جاتو عمده محصولات عبارت د ي له: انګور، بادام، زردالو، انار او دمڼي ونې دي، پورته میوه جات ۹۵،۹ فیصده د هېواد د میوو د باغونو احتوا کوي. لاندې دیاګرام مشاهده کړئ:




د پارو پواینټ ۳۳ شمېره سلاید ډېر عام سبزیجات چې په ولایتونو کې کښت کیږي، ښیايي. دا سلاید زده کونکو ته وښایاست او هغوي ته یې تشریح کړئ چې دا تولیدات متختلفي منطقي له اقتصادي پلوه څه ډول متاثره کوي.
له زده کونکو څخه پوښته وکړئ که چېرې هغوي د کوم نبات په کښت او کار کې مصروف وي، نو عملیات دې پاتې زده کونکو ته تشریح کړئ.

د هغه نباتاتو نومونه چې په تخته باندې لیکل شوي دي کاپي کړئ. زده کونکي دوه دوه جوړه کړئ ترڅو نباتات درجه بندي کړي. زده کونکي دې نباتات په داسې شکل سره ترتیب او درجه بندي کړئ چې: کوم نبات چې کم اقتصادي عاید لري هغه لومړی او کوم نبات چې زیات اقتصادي عاید لري هغه له هغې نه وروسته په ترتیب سره نوشته کړي. هر کله چې ټولو ګروپونو دا کار بشپړ کړ، وروسته ګروپونو ته وخت ورکړئ چې په خپل منځ کې خپلي لاسته راوړني شریکې کړي. له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چې دوي ولي دا په دې ډول سره ترتیب کړي دي؟ وروسته له هغه ګراف چې په ۳٤ شمېره سلاید کې دي هغوي ته په ګوته کړئ. زده کونکوته ښه واضح کړئ چې ګراف د باغداری د عایداتو منحنی حالت نسبت د غنمو محصولاتو ته ښایي.

**مرورا لنډیز:** د زده کونکو د زده کړي له موخې نه د لوست د لنډیز په منظور ګڼه واخلئ. له زده کونکو څخه وغواړئ ترڅو د سوالونو په شکل د لوست محتویاتو ته مرور وکړی. د زده کونکو ځوابونه کولي شي چې تشخیص کړي چې کومي موخې د تدریس ځانګړي دوباره تلګلاري ته اړتیا لري. په صورت کې چې زده کونکي د نوټ له کارتونو سره مشکل لري، کیدلي شي چې د هغوي لپاره تکرار شي ترڅو هغوي د ورو کارتونو پواسطه د کار کولو له طرز سره اشنا شي.

**د اجرا لاندې قرار ورکول:** تشخیص اهمیت صنعت باغبانی د اجراکونې لپاره کیدلي شي د زده کونکو د دخیل کولو پواسطه په لاندې فعالیتونو کې صورت ونیسي (LS: A2–1)د باغوانی د صنعت اهمیت تشخیص

**ارزيابي:** د زده کونکو د لاسته راوړنو په اساس د لوست د موخو په برخه کې متمرکزه وي. په دې برخه کیدلي شي له ساده لیکلي ازمویني نه استفاده وکړل شي.

**نمونه ئي ازموینې ته ځوابونه**

**لومړی جز: مطابقت ورکول**

1. b
2. d
3. e
4. a
5. f
6. c

**دوهم جز: بشپړ کول**

1. Floriculture, landscape horticulture ( ګل پالنه،منظر پالنه)
2. Fruit (میوه)
3. Nutrition, economy (تغذیه ، اقتصاد)

**دریم جز: لنډ ځواب**

١ - د کارموندنې په سطحه کې زیاتوالی، په حیواني او انساني خوراکه کې زیاتوالي، د الله د ښایسته مخلوقاتو او محسناتو څخه لذت اخستل، دا ټول د باغداری یا باغوانۍ له ورو ګټو څخه دي.

## نمونوي ازموینه

نوم: ________________________________

## ازموینه

## دوهم لوست: باغوانی د صنعت د اهمیت تشخیص
## (Horticulture Industry)

### لومړی جز : مطابقت ورکول

**لارښوونه:** د صحیح ځواب په وړاندې اصطلاح ولیکئ. د اصطلاح تورى نظر په تعریف سره ولیکئ.

- floral production
- olericulture
- pomology
- vegetables
- floriculture
- landscape horticulture

1_______ د باغوانی د هغه ساحې نه عبارت ده چې دسبزیجاتو تولیدي محصول په بر کې نیسي.

2 _______ معمولاً د کورنیو د داخلي مصارفو لپاره په ښاري او نیمه ښاري منطقو کې په داخل د حویلی کې کشت کیږي، لکه کچالو.

3 ________ د ګلونو له کښت او پالنې نه عبارت ده.

4 ________ کشت و زرع ګلها یا برګهای نباتات زینتی د زینتي نباتاتو د پاڼو (foliage) او ګلونو کرل او کښت.

5________ د نباتاتو تولید او استعمال ترڅو د ژوندانه محیط ښایسته شي.

6________ د باغوانی(horticulture) له هغه ساحې نه عبارت ده چې د میوه جاتو او مغزبابو تولید په بر کې نیسي.

### دوهم جز : بشپړول

**لارښوونه:** د جملو د بشپړ کولو لپاره له کلمې یا کلمو نه کار واخلئ.

1 – د زينتي باغوانی(industry) صنعت له مهمې برخي نه ترکیب شوي. يو له هغې نه ________________ او بل ____________ دي.

2 - ________________ له هغه محصولاتو څخه عبارت دي چې نا استعمال شوي ځمکه د نورو نباتاتو پواسطه تر استفادې لاندې نیول کیږي.

3 – سبزېجات زمونږ د ______________ او ______________ دواړو لپاره مهم دي.

**دریم جز:** دلاندې سوالونو د ځوابونو په خاطر معلومات برابر کړئ.

1 - د مېوي، ګل(horticulture) او سبزي پالنې عمومت یا رواج څهٔ ګټې لري؟

LS: A2–1

نوم: ________________________________

## لابراتواري ورقه

### دوهم لوست: باغوانی د صنعت د اهمیت تشخیص
### (Horticulture Industry)

**لارښوونه:** د سبزیجاتو، میوو او مغزبابو مختلفي نموني د ونو د پلورنکو اعلانونو څخه وټاکئ که چېرې تجارتي اعلانونه شتون ونه لري، د هغې د بدیل لاره هغه ده ترڅو محلي مارکیټ ته لاړ شئ او د هري وني نرخ وپوښتئ. کو م معلوما چې په لاس راوړئ هغه په لاندې جدول کې درج کړئ. او ورو راتلونکي سوالونه ځواب کړئ.

| تولید | قیمت یا نرخ په | | | نرخ توپیر |
|---|---|---|---|---|
| | الف موقیعت | با موقیعت | ج موقیعت | |
| 1. | | | | |
| 2. | | | | |
| 3. | | | | |
| 4. | | | | |
| 5. | | | | |
| 6. | | | | |
| 7. | | | | |
| 8. | | | | |
| 9. | | | | |
| 10. | | | | |

1 - کوم تولید د نرخ لوي توپیر درلود؟څه فکر کوی چې ددې توپیر علت څهٔ شي دي چې نسبت نورو تولېداتو ته قیمته وو؟

2 – د ټولو غذایي تولېداتو په منځ کې توپیرونه په څه ډول تشریح او ورښانه کولي شی؟